نور محمد غفوري
۲۰۲۴/۱۰/۲۵

# نړیوال نظم په کومو قاعدو ولاړ دی؟

## (د پخوا نی لیکنې په سلسله)

څو ورځې مخکې د همدې ۲۰۲۴م کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۹- مه نېټه مې د «نړیوال نظم او افغانستان» تر سرلیک لاندې یوه مقاله خپره کړه چې په هغو کې مې د لیکنې په ضرورت، د نړیوال نظم په ماهیت او د عمل په فکټورونو یې رڼا واچوله. هلته د نړیوال نظم قواعد، اصول او نارمونه؛ د نړیوال نظم سازمانی بنسټونه او په نړیوال ډگر کې د قوې ویش او بیلانس د نړیوال نظم د اساسي فکټورونو او اجزاوو په حیث یاد شول. یادونه وشوه چې نړیوال نظم یو چوکاټ دی چې د هغه قوانینو، اصولو، او نورمونو مجموعه ده چې د نړۍ په کچه د هېوادونو ترمنځ اړیکې تنظیموي. دا نظم د نړیوالو تړونونو، موافقو، سازمانونو، او نورو رسمي او غیر رسمي جوړښتونو له لارې رامنځته شوی دی، او موخه یې د سولې، امنیت، اقتصادي پرمختګ، او نړیوالې همکارۍ ساتل دي. نن به دلته د نړیوال نظم په قواعدو، اصولو او نارمونو رڼا واچوو.

**1 . د نړیوال نظم قواعد (Rules) یا (Regeln):**

هغه قوانین دي چې په رسمي ډول د هېوادونو ترمنځ د تړونونو او موافقو له لارې رامنځته شوي او هېوادونه اړباسي چې په خپلو اړیکو کې ځینې ټاکل شوي معیارونه مراعات کړي. ویلای شو چې د نړیوال نظم قواعد هغه عملي لارښووني دي چې د نړیوال نظم د اصولو پر بنسټ جوړېږي او د دولتونو ترمنځ د اړیکو لپاره تنظیمي چوکاټ برابروي. دا قواعد مشخص، دقیق، او زیاتره وخت په نړیوالو تړونونو او قوانینو کې په رسمي ډول تعریف شوي دي. په لاندې لیکو کې به د هغو په ځینو مثالونو رڼا واچوو:

- **د دولتونو د حاکمیت** (Sovereignty) یا په جرمني ژبه (Souveränität) د احترام قاعده د هر دولت دا حق تائیدوي چې د خپلو کورنیو چارو په اړه مستقلې پرېکړې وکړي او هیڅ بهرنی ځواک او هېواد حق نه لري چې د دوی په کورنیو چارو کې مداخله او لاسوهنه وکړي.

یا په بل عبارت، د دولت د حاکمیت قاعده د دولت هغه حق او صلاحیت ته ویل کېږي چې په خپله خاوره کې د آزادو او خپلواکو پرېکړو کولو توان لري او د بهرنیو دولتونو له مداخلې پرته خپلې چارې اداره کوي. حاکمیت د دولت یو اساسي اصل دی چې د داخلي چارو، قوانینو جوړولو، او بهرني سیاست ټاکلو په اړه بشپړ واک لري. ټول دولتونه، پرته له دې چې لوی وي یا کوچنی، یو له بل سره مساوي دي او باید د یو بل حاکمیت ته درناوی وکړي. دا قاعده د دولتونو خپلواکي او ازادي تضمینوي.

د دولت د حاکمیت قواعد په (۱۹۴۵) زیږدیز کال کې د ملگرو ملتونو په منشور کې منل شوی او غړي دولتونه باید د یو بل حاکمیت ته احترام ولري او د زور او ځواک له لارې د مداخلې څخه ډډه وکړي. د ملگرو ملتونو د بشري حقوقو د ۱۹۴۸م کال په نړیواله اعلامیه کې هم د هېوادونو د حاکمیت قواعدو ته اشاره شوې ده، خو تر څنگه یې دا هم وایي چې دولتونه باید د خپلو اتباعو بشري حقونو ته درناوی وکړي. د نړیوالوحقوقو په ډېرو نورو تړونونو کې هم یو د بل په وړاندې د دولتونو د حاکمیت په اړه ټینگار شوی دی.

باید یادونه وکړو چې د دولت حاکمیت سره سره، ځینې مسایل لکه د بشري حقونو سرغړونې، نړیوالې ترهگرۍ، او اقلیمي بدلونونه داسې دي چې په ځینو مواردو کې د نړیوالې مداخلې غوښتنه کېږي. د مثال په توگه، کله چې په یوه هېواد کې بشري حقونه په پراخه کچه تر پښو لاندې کېږي، نړیواله ټولنه ممکن مداخله وکړي ترڅو د دې ستونزې مخه ونیسي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

- **د زور د نه استعمال قاعده -**  د ملګرو ملتونو منشور د دې قاعدې پر اساس ټینګار کوي چې هېڅ دولت نشي کولی چې د زور او ځواک له لارې د بل دولت پر ضد عمل وکړي، پرته له دې چې د ځان د دفاع په موخه وي یا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له لوري اجازه ورکړل شوې وي. د جګړې مخنیوی، د سولې ساتنه، او د بشري حقونو درناوی هغه قواعد دي چې د ملګرو ملتونو په منشور(UN Charter) کې ځای پر ځای شوي او دولتونه یې په مراعات کولو مؤظف دي.
- **د ملي مساوات قاعده** وايي چې ټول دولتونه، که لوی وي یا کوچنی، له یو بل سره مساوي دي او باید د مساوي حقونو او مکلفیتونو درلودونکي وي. دا قاعده د نړیوالو اړیکو اساس جوړوي.
- **د نړیوالو شخړو د سوله‌ییز حل قاعده** هم  د نړیوال نظم یوه مهمه قاعده ده چې دولتونه باید خپل اختلافات د خبرو اترو، منځګړیتوب، او نورو سوله‌ییزو لارو حل کړي، نه د جګړو او تاوتریخوالي له لارې.
-  **د نړیوالو تړونونو درناوی او رعایت:** هېوادونه اړ دي چې د هغو تړونونو له مخې چې لاسلیک کړي یې دي، عمل وکړي. د بېلګې په توګه، د اقلیم په اړه د پاریس تړون، د اټومي وسلو د نه پراختیا تړون(NPT) ، او د نړیوال سوداګریز سازمان (WTO) تړونونه او ډېر نور باید د هغو هېوادونو له خوا مراعات شي چې لاسلیک کړي یې دي. د نړیوالو قوانینو له مخې، جګړه ییز جنایتونه، نسل وژنه، او بشري ضد جنایتونه غیر قانوني ګڼل کېږي، او هېوادونه د دې مسئولیت لري چې د دغو جنایتونو مخنیوی وکړي. دا د نړیوالو تړونونو او قوانینو د اعتبار لپاره ډېر مهم دی.
- **د بشري حقونو رعایت:** دولتونه مکلف دي چې د خپلو اتباعو بشري حقونه وساتي او له هغوی سره په درناوي چلند وکړي. دا قاعده د نړیوالو تړونونو او سازمانونو له لارې ملاتړ کېږي، لکه د بشري حقونو نړیواله اعلامیه.

همدا راز د ځمکنی بشپړتیا ساتنه، د ځان د دفاع حق، د نړیوالو سازمانونو قوانینو ته درناوی او داسې نور هغه قواعد دي چې د بشری نړیوال نظم په جوړولو کې غوره رول لوبوي.

په لنډه ویلای شو چې د نړیوال نظم قواعد  هغه دقیق او اجباري قوانین دي چې د دولتونو ترمنځ اړیکې تنظیموي او د نړیوالو اړیکو د ثبات او نظم لپاره یو اړین چوکاټ برابروي.

(دوام لري)

۲۴ د اکتوبر د ۲۰۲۴ م کال

نور محمد غفوري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ